


ليکونکې:کيمبرلی دازير(Kimberly  Dazier)

منبع اوخپريدو نيټه : ورلد نيو«۲۰۱۴-۵-۴».

ژباړونکې : پوهندوی دوکتور سيدحسام «مل»


---------------------------------------------

# له افغانستان څخه  په ځانګړی بڼی سره د امريکی د متحده ايالاتو مرکزی اطلاعاتی اجنسی(CIA) تر شا کيد ل

## Exclusive: CIA Falls  Back  in Afghanistan

دامريکی دمتحده ايالاتو د اطلاعاتی اداری غيرمنظم قوتونه  دطالبانو سره په جګړه کی له کال «۲۰۰۱» څخه  لاتراوسه غښتلی اويواخنی ځواک وه ، اما اوس  دغه  قوتونه د موسم دګرميد و اود خونړی جګړی درازيا تيد و په درشل کی له افغانستان څخه پينی سپکوی .




کابل افغانستان: دامريکی د متحده ايالاتو اطلاعاتی اداره   له دی نه چی دخپل وتلو په درشل کی د جګړی  له مقد م ليک  څخه د افغانستا ن له  جنوبی  اوختيځ برخوڅخه هغه

ملیشا یی اوضد تروریستی قوتونه چې دامریکې په سلا اومشورې سره جنګیدل اودهغو سره قرارداد درلود اواوس چې دغه قرارداد له مینځه وړی نو طبعی دی چې په نوموړی برخو کې یو امنیتی خلا راپیدا کیږی نو په همدی وجهی سره د امریکې د متحده ایالاتو د قوماند ا نا نوسره دغه ویره پیداشوی دی چې د قراردادی ملیشو په نشتوالی سره به نوموړی را پیداشوی خلا دطا لبا نو اودالقاعدی دجګړه مارو پواسطه سره بیرته ډک شی او په عین وخت کې دپاکستان اودافغانستان دپولو په خلاصون سره به داسلحو اود جګړه مارو کاروانونه به په ډیر آسانی سره افغانستان ته ورواوړی .
« په افغانستان کې د امریکې متحده ایالاتو اطلاعاتی اداره اوس د ملیشا یی قوتونو سره خپل مخکینی امنیتی قرارداد کوم چې هغوی دامریکې دغه سازما ن د پاره جنګیدل له مینځه وړی » په دی اړین دافغانستان د تلونکی جمهور ریس حا مد کرزی ویا ند داسی غبرګون وښودل : «مونږ له ډیر پخوا مودی څخه دافغان اود(سی آی ای) په مشترک او ګډ عملیاتونو با ندی نیوکی کولی» هغه زیاته کړ چې مونږ غوښتل چې په ځنی مهمو برخو کې کوم چې امریکایان اوس ځای پرځای شوی دی هلته خپل قوتونه پرځای کړو.
په هرصورت افغانی اوامریکا یی قوما ند انا نو په یوه خبری ناسته کې د یلی بیست (Daily Beast) آژانس ته داسی وویل : اوهغه داچې افغانی قوتونه لا هومره زیات نه دی چې د (سی آي ای) دشبهه نظامیا نو اوهغو کوم چې د (سی آی ای ) د ماهرانو په واسطه سره په روان نظامی عملیاتونو کې سره تربیه شوی دی دهغه په وتلو اونشتوالی کې دهغو ځا یونه ډک کړی خصوصاً کوم چې امریکا یا نو مخکې دمخکې دهغو سره وعده سپارلی وه چې هغوی به په دوبی یعنی دجګړی دشدت په موسم کې به له د ندی سره نه ګوښه کوی اما اوس چې هغوی سره قرارداد فسخه کیږی دا ویره را پیداکیږی چې نه چې دوی دافغان اود امریکې دقوتونو په وړاندی په جګړه لاس پوری نکړی اوهغه هم د هغه خلاف رفتاری په بد ل کې لکه چې دامریکې سپینی ما نی له ډیر پخوا څخه دا تعهد سپارلی وه چې دافغانستان سره به خپل سپارل شوی وعده ترسره کوی نو اوس داسی انګیرل کیږی چې دنوموړی قوتونو په نشتوالی سره به د افرصت مساعد کیږی چې دالقاعدی وړه ګروپونه دافغانستان په دننه کې په ډیر آزادانه او په آسانی او تتدریجی بڼی سره به وده وکړی او په پای کې به دنوی دسیی تخمونه وپاشوی لکه هغسی چې د سپتمر دیولسم نیتی دپیښی دعاملانو څخه یوه لسیزه وروسته څه نه وه چې دوی ونکړل .
دامریکې دمتحده ایالاتو ځنی رسمی اود روان پیښی سره ککړ کارپوهانو اوماهرانو په **دی باور دی چې دامریکې د (٠سی آی ای) د قوتونو په تتدریجی وتلو سره پخپله** د نوموړی هیواد قانون جوړونکی ته به هم یو خبرتیا اواخطاریه وی کوم چې هغوی داسی انګیرلی چې له افغانستان څخه دامریکې دنظامی قوتونو په وتلو سره یوشمیر امریکای سرتیری به په افغانستان کې پاتی شی ترڅوچې دطالبانو او القاعدی سره به وجنګیږی .

اما د (سی آي ای) لوړ پوړی چاروکی تیره هفته قانون ګذارانو ته وویل چي دامریکی دمتحده ایالاتو نظامیان په ډیر آرامی اوبی له کوم ګني ګونی څخه دافغانستان په سراسرکی خپل اډی تړی اودهغه سره جوخته دامریکی اطلاعاتی سازمانونه هم دخپلو فعالیتونو اودخپل پرسونل په کمښت کی هڅی پیل کړی اوهغه داچي دامریکی اطلاعاتی سازمان نه غواړی چي په افغانستان کی دهغه ورته جنجال سره مخامخ شی کوم چی په بندغازی او لیبیا کی چی هلته شبهه نظامیان دامریکی د دیپلوما تیکو او د اطلاعاتی سازمانونو داډو څخه دوتلواودتړلو په وخت کی تر یرغل لاندی پریوتل اودهغه په پا یله کی دامریکی سفیر اودهغه سره داطلاعا تی سازمان دوه کارکونکی خپل ژوند دلاسه ورکړل.

اوس د« اوبا ما» اداره غواړی چی د خپل سرتیرو اونظا می پرسونل د وتلو د نیټی ددسمبرد میاشت په اخر کال «۲۰۱۴» څخه وروسته په افغانستان کی تر « لس زره سرتیری » پریږدی اما لا تراوسه موضوع پوره نه دی معلوم اوداځکه چی دافغانستان پرسر داقتدار موجود جمهور ریس د امریکی او د افغانستا ن ترمینځ داوږدی مودی دامنیتی تړون دسند دلاس لیک کولو څخه ډده وکړ او د بلی خوا څخه دافغا نستا ن د جمهوری ریاست دټولټاکنی جریان ممکن دی چی څو میاشتی خپله کړی تر څو چی نوی جمهور ریس واک ترلاسه کړی نو په دی بنیاد سره دلسوزرو امریکایی سرتیرو دپاتی کیدو اود نه پاتی کیدو مسا له روښانه نه دی .

نو په دی بنیاد سره دامریکی دمتحده ایالاتو نظامی قوتونه په ډیر بیړه سره له خپلو اډو څخه دراوتلو په اهتماماتو بخت دی او هم په هغه صورت کی چی ددواړو هیوادونو (افغانستان اوامریکی) ترمینځ دامنیتی تړون سند لاس لیک شی امریکی به په افغانستان کی مخکی د منی درارسید څخه خپل شپږ دایمی آډی سا تی اوهغه به پوره بشپړوی اما دامریکی داطلاعا تی سازمان کارکونکی خپل د ندی امنیتی سند پوری نه تړی بلکه هغوی دامریکی دسرتیرو دسا تلو اودهغو دپاره د لوژیستکی وسایلو په را برابرولو کی ځان مسول ګڼی اوبیا په ځا نګړی بڼی سره دامریکی د لیری نظامی اډی د سا تنی مسولیت پرغاړه لری کوم چی دافغانستان په جنوب اوختیځ کی ځای پر ځای دي نو دهمدی دلیل په پام کی نیولو سره تیره میاشت اداری حلقی داسی پریکړه وکړل چی دغه پراميليتری (شبهه نظامیان ) کوم چی دامنیت په سا تلو کی ډیر مهم د ندی تر سره کوی دهغو په شمیر کی زیاتوالی راولی اما اوس ددغه پریکړی په مقابل کی ضد تصمیم نیول شوی دی

په یاد کی مو باید وی چی وروسته له هغه چي پَه کال (۲۰۰۱) کی دامرزیکی نظامی قوتونه پرافغانستان باندی تیری وکړل ، نوپه همغه وخت کی کله چی دامریکی جاسوسی سازمان یعنی د(سی آي ای ) ماهران افغانستان ته ورننوتل نوسمدلاسه د افغان دشبهه نظامیانو په استخدام او دهغو په نظامی زده کړی باندی پیل وکړل او د دواړو هیوادونو

درسمی مقاماتو دپریکړی پر بنیاد دغه افغانی شبهه نظامی تربیه کړل شوی ګروپ ته دمخفی امنیتی مامورینو لقب ورکړل او ونه غوښتل چی دهغو داستخدام او یا دسازمان دتشکل په اړین عامه خلکوته څه ووایی یعنی موضوع یي پټ وسا تل اوداسی بهانه یی جوړ کړل چی دافغانستان اودامریکی تصمیم نیونکی مقامات ونه غوښتل چی دافغانی دغه مخفی امنیتی سازمان افشا شی.
دبلی خوا څخه په دی وختونوکی د افغانستان نخبګان او یا لوړپوړی ټیمونه یا ګروپونه لکه دامریکی دمتحده ایالاتو دځانګړی بیړنی عملیا تی ځواک په ورته بڼی سره ډارونکی یا کرکجن ټولګی رامینځته کړی یا تشکیل کړی چی دټاکلی هدفونو دتر لاسه کولو دپاره دهغه یوشمیر افسرانو له خوا لکه چی امریکای قوتونه د امریکی دشبهه نظامی افسرانو پواسطه سره لارشونه کیدل لارښونه کیږي .
اوس اوس دغه پورتنی نوی تشکیل شوی ځواک چي پخپل تشکیل کی (۷۵۰) ضد تروریستی غړی لری دکنړ په ولایت کی خپل د ندی تر سره کوی او دهغو له ډاره دافغانی له لوری دالقاعده مشر فاروق القطانی القتری له خپل کور څخه تښتیدلی اود بلی خوا څخه (۳۵۰۰) تکړه غړی دخوست دولایت په سا تنه کی خپل دندی سرته رسوی چی دلته باید له هغو څخه یادونه وکړو .
دخوست جنګیالی دشورشیان په ګن ګون منطقه کی په ګزمی وهلو سره ستر کمک ترسره کوی خصوصاً کوم چی هغوی دپاکستان دپولی په اوږدوکی اوبیا په خاصه توګه دوزیرستان په ولایت کی کوم چی هلته ډیری طالبان دحقانی دشبکی غړی ، القاعده او ځنی نور مختلفی شورشی شبکی ځا ی پر ځای دی او کله نا کله دامریکی داطلاعا تی سازمان (سی آی ای) دبی پیلوته الوتکو د بمبارد سره مامخ کیږی .
دکنر اود خوست دادِی یونیټ یا جزوتام دحقانی اود القاعدی دشبکی دګډ فعالیتونو دمسدود کولو اود تړلو د یو وسیلی په بڼه دنده ترسره کوی چی دهغوی د عملیاتونو اویا دهغو د جنګی پلانونو په مورد کی خپل مسولو مقا ما تو ته راپور ورکړی دغه مطلب د امریکی یوه لوړ پوړی افسر په ډاګه کړ ا وداسی یی توضیح کړ : لاتراوسه نه دی معلوم چی دنوموړی یونټ (دکنر او خوست) په اړه څه را پیښیږی ځکه چی دهغوی د جذب د پا ره کوم ځا نګړی پلان په لاس کی نشته .
د(سی آي ای) په تاریخ کی خوست دهغه سازما ن دپاره هغه دلاسه ورکونکی یو ولایت دی کوم چی د القاعدی یوه دوه مخه (ډبل اجنټ) جا سوس خپل ځان د چا پمن (Chapman) دعملیا تی اډی په مخ په بمب ځان والوزول چی د هغه سره جوخته د«سی آی ای» اوه مامورخپل ژوند دلاسه ورکړل او د « سی آي ای » شپږ نور کارمندان ټپیان شول .
دیادونی بل ډیر مهم مطلب دادی چی دامریکی د(سی آي ای) یوله ډیر اولنی غښتلی تریننګ شوی اواصلی یونیټ چی پخپل تشکیل کی«۹۰۰» ضد تروریستی غړی لری

او دپکتیکا په ولایت کی د شیخ (shkin) په منطقه نژدی خوست ته ځای پرځای دی له افغانستان څخه دامریکا یی قوتونو په وتلو سره دغه پورتنی یونیټ یا ضد تروریستی جزوتام هم خپل فعالیتونه بندوی یا له منطقی څخه پیښي سپکوی. له بلی خوا څخه یو افغانی لوړ پوړی اطلاعاتی افسر په یوه خبری ناسته کی په ډاګه کړ چی دلته یو ډله جنګی خلک کوم چی په نښه ویشتلو کی ډیر ماهر او په بالمقطع معاش سره پر ضد دشورشیانو جنګیدل اواوس دهغودفعالیتونو په بندیدو سره دهغو ځای په ډیر بیړه سره د طالبانو په تصرف کی ولویږی اودا نه دی راڅرګند چی ایا نوموړی منطقه به دافغانی نظامیانوتر ولکی لاندی راځی اویا نه ؟

دحامد کرزی ددفتر ویاند ښاغلی فیضی دشکن(shkin) دترییننګ شوی ځواک په اړه په یوه خبری ناسته کی وویل چی مونږ لا تراوسه د شکن د ماهرانو اود ترییننګ شوی یونیټ په اړه کوم ټاکلی پلان په لاس کی نه لرو اما دومره ویلی شم چی مونږ غواړو دغه یونټ داطلاعاتی امنیت په اداره کی جذب کړو او په هیڅ بڼی سره نه غواړو چی دوی دطالبانو ښکار شی اویا دهغوی پواسطه سره جذب شی . هغه زیا ته کړ چی مونږ ددی جزوتام غړوته دامریکی د (آی اس آی )د سازمان په ورته اوبرابرمبلغ یاد سلوډالرو اویا افغانیوکم اویازیات سره به معاش ورکړو .

دکنړ په ولایت کی یو افغانی لوړپوړی قوماندان په یوه څرګندونه کی داسی وویل چی مونږ نه غواړو پرخپل ځان دتاریخ تیرشوی پیښی له سره تکرار کړو بلکه مونږ غواړو چی دامریکا یا نو دسرتیرو په وتلوسره دهغو تش ځا یونه پخپلو قوتونو سره په بیړه ډکی کړو .

جنرال محمد زمان وزیری د ډیلی بیست دآژانس ( Daily Beast Agency) سره کوم چی نوموړی آژانس دافغانستان ځنیځ یعنی کنړ ځواته تللی وه په یوه خبری ناسته کی چی دهغه خبری د یو ترجمان پواسطه سره ترجمه کیدل داسی وویل : زه غواړم چی په راتلونکی کی داسی یو موقف ولرم چی دهغه په رڼا کی خپل ټاکلی اهداف تر لاسه کړم اما ددی اهدافو دتر لاسه کولو دپاره زیات شمیر سرتیرو ته ضرورت لرم چی با ید دغه شمیر سرتیری ولرم.

دوه امریکایی لوړ پوړی افسران د (سی آی آی) پواسطه سره د تربیه شوی افغانی شبهه نظامیانو په اړه دکنړ په میشته اډه کی داسی څرګندونه وکړل : ممکن دی چی د هغوی ددندی په ختمید و سره ځنی دهغوی دطالبانو سره لاړشی لکه چی اوس هم ځنی دهغوی دطالبانو سره یوځای شوی هم دی اووددی امکان هم لیدل کیږی چی که چیری اویا کله چي امریکایان هغوی ته نورمعا ش ورنکړی او یا د هغو څخه څارنه ونکړی ، هغو به دطا لبا نو سره روغه جوړه وکړی اوپه دی شان ځان خوندی وساتي .

په درناوی